مسیر
ورځپاڼه
www.maseerdaily.af
نوی لید، نوی مزل
چهارشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۱٤مه | د ۲۰۲۰ د مارچ ځلورمه | ۵۲۵مه ګڼه

# تر هوکړې وروسته تاوتریخوالی؛

## ملي او نړیوالې ادارې د اورکم د دوام غوښتونکې دي



امریکا او طالبان به څومره په خپلو ژمنو کې بریالي وي؟
۳ مخ

امریکا له اوږدې جګړې وروسته خالي لاس له افغانستانه وځي
۲ مخ

د جګړې بیا پیل، اوازې او اندېښنې
۲ مخ

## ایسپر: په راتلونکو څو ورځو کې به له افغانستانه د امریکايي ځواکونو وتل پیل شي

دا په داسې حال کې ده چې د تېرې شنبې په ورځ د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لاسلیک شوه، تازه د امریکا دفاع وزیر مارک ایسپر ویلي چې خپلو قوماندانانو ته یې سپارښتنه کړې چې له افغانستانه د سرتېرو ایستل پیل کړي.
ایسپر په واشنګټن کې یوې خبري غونډې ته د خبرو پر مهال ویلي، امریکا د هوکړې عملي کولو ته ژمنه ده، نو له همدې امله به په لسو ورځو کې د سرتېرو ایستل پیلوي.
د نوموړي په خبره، خپلو قوماندانانو ته یې سپارښتنه دا ده چې د سرتېرو د ایستلو لپاره لومړنی تیاری ونیسي. هغه ویلي، ښه ده چې هر څه په عمل کې ثابت کړي او خپل سرتېري له دې جګړې هېواد ته راستانه کړي. نوموړي د یوې پوښتنې په ځواب کې ویلي، هیله لري چې روانه جګړه په افغانستان کې پای ته ورسېږي او په دې توګه په دغه هېواد کې د سیاسي جوړجاړي په مرسته دایمي ثبات راشي.
دا په داسې حال کې ده چې د امریکا او طالبانو تر منځ د شوې هوکړې له مخې به په لومړي پړاو کې پنځه زره او د هوکړې له لاسلیک ۱۴ میاشتې وروسته به ټول بهرني ځواکونه له افغانستانه وځي، خو په بدل کې به یې طالبان، القاعده او نورو ترهګرو ډلو ته د دې اجازه نه ورکوي چې خاوره یې د امریکا او د دوی د متحدینو پر وړاندې وکارول شي.

## چین: بهرني ځواکونه دې په منظم او مسوولانه توګه له افغانستانه ووځي




۵ مخ

## کتاب

۴ مخ

### د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین




طالبان وایي چې ملا محمد عمر د شوروي ځواکونو پر مهال څلور ځله ټپي شو او یوه سترګه یې هم هغه وخت ړنده شوه. ملا محمد عمر د مولوي محمد خالص اسلامي حزب له قوماندان ملا نیک محمد سره په جبهه کې و.

## په کونړ کې پر زرګونو بېوزلو کورنیو خوراکي توکي ووېشل شول



په کونړ کې د خوړو نړیوال سازمان له لوري له څه باندې ۱۱ زرو بېوزلو کورنیو سره د خوراکي توکو مرستې وشوې.
د دې موضوع په اړه نیول شوو مراسمو ته د کونړ والي عبدالستار میرزکوال ویلي، چې د خوړو نړیوال سازمان له لوري پرون په مرکز اسعداباد، څوکۍ، مروره، نرنګ، نورګل، وټه پور او غازي اباد ولسوالیو کې مرستې شوې دي.
هغه وایي چې په یادو ولسوالیو کې پر ۱۱۰۶۹ بېوزلو کورنیو باندې ۲۰٤۲ متریک ټنه خوراکي توکي وېشل کېږي.
هغه ویلي چې تر اوسه په دغه ولایت کې د ولایتي اداري او نورو مرستندویه ادارو له خوا له پنځو زرو بېوزله کورنیو سره د خوراکي او نورو توکو مرستې شوې دي.
والي له مرستندویه ادارو غوښتي چې په دغه ولایت کې له بېوزلو کورنیو سره خپلو مرستو ته دوام ورکړي.

## مارک میلی: سطح خشونت در افغانستان به صفر کاهش نخواهد یافت




جنرال مارک میلی لوی درستیز امریکا می گوید که در افغانستان علاوه از طالبان مسلح گروه های دیگر نیز فعالیت دارد، پس سطح خشونت در این کشور به صفر کاهش نخواهد یافت.
میلی گفته است که ممکن سطح خشونت در افغانستان به صفر نرسد.
وی گفته است که تنها طالبان در افغانستان فعالیت ندارد، در این کشور گروه های تروریستی دیگر نیز فعالیت دارد.
این مقام بلندرتبهٔ امریکا در حالی اظهارات فوق را مطرح میکند که دو روز پیش در یک میدان فوتبال در ولسوالی نادرشاه کوت ولایت خوست در انفجار ماین سه غیرنظامی کشته و ۱۱ تن دیگر زخم برداشته اند. طالبان دست داشتن خود را در این حمله رد کرده است.
این در حالیست که امریکا و طالبان برای مناسبت تفاهمنامهٔ صلح از «۳ حوت تا ۹ این ماه» در افغانستان بالای کاهش خشونت توافق کرده بود.
جانبین برای جنگ حدود ۱۹ سالهٔ در افغانستان شنبهٔ گذشته «تاریخ ۲۹ فبروری» تفاهم نامهٔ صلح را امضاء کرد که از اثر آن سطح خشونت در افغانستان کاهش یافت.
میلی این تفاهم نامه را برای خاتمهٔ جنگ کنونی در افغانستان مهم میخواند و میگوید که این تفاهمنامه باعث مذاکرات بین الافغانی خواهد شد که با آن برای تامین صلح سرتاسری زمینه فراهم خواهد شد.

Aksos Book Store
اکسوس کتابپلورنځی
کتاب مو د ژوند ملګری کړئ



Aksos
کابل دریمه ناحیه، د ذهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

دریځ

## د جګړې بیا پیل، اوازې او اندېښنې

په ټولنیزو رسنیو کې طالبانو ته منسوب داسې لیکلي او غږیز پیغامونه خپرېږي چې هغوی پکې د اورکم پړاو د ختمېدو خبره کوي او خپلو وسله والو ته وایي چې پر افغان ځواکونو بریدونه بیا پیل کړي. په دغو پیغامونو کې ویل شوي چې بریدونه به پر بهرنیو ځواکونو باندې نه کېږي. طالبانو په رسمي ډول په دې تړاو څه نه دي ویلي او نه یې هم دا پیغامونه تایید کړي، خو د طالبانو مخالفین او ځینې ناپیلي کسان په دې تړاو اندېښنې ښیي او طالبان ملامتوي.

د جګړې د پیل او د اورکم د ختم رسمي اعلان نه دی شوی او خلک هم تمه لري چې بیا جګړه پیل نه شي، خو پرون ورځ په ځینو ځایونو کې بریدونه شوي او داسې ښکاریږي چې دا کار پر افغان حکومت د فشار راوړلو لپاره کېږي. طالبان؛ حکومت له دې امله پړ ګڼي چې د بندیانو د نه خوشې کولو له لارې د سولې په لاره کې خنډونه جوړوي. په همدې تړاو د طالبانو په رسمي ویب پاڼه کې په یوه لیکنه کې چې د دوی رسمي نظر څرګندوي، پر حکومت توندې نیوکې شوې دي او د اشرف غني د دریځ د ناوړه پایلو په تړاو ګواښ هم پکې شوی دی. په دې لیکنه کې په واضح ډول ویل شوي چې که اشرف غني مقاومت کوي، نو جګړه به پیلېږي او پړه به یې بیا خپله د دوی په خبره، د کابل ادارې پر غاړه وي. په لیکنه کې ویل شوي: «دا چې په دې وختونو کې د اورکم شپې ورځې پای ته رسېدلې دي او داسې ښکاري چې ځینې ځایونه خال خال بریدونه هم شوي، د دې پر ځای چې چارواکو د اورکم دا اونۍ پسې غځولې وای، ترڅو یو دایمې اوربند ته لاره موندل شوې وای، خو هغوی برعکس د اور بلولو او ډېرولو ته متې را بډ وهلې دي.» له دې لیکنې واضح ښکاري چې طالبان غواړي د اشرف غني دریځ ته غبرګون وښیي او په بریدونو سره پر هغه فشار راوړي او داسې پیغام ورکړي چې که دا بندیان نه خوشې کېږي او اشرف غني همداسې شرطونه وړاندې کوي، نو دوی جګړه بیا پیلوي.

اوس ویلی شو چې د جګړې د بیا پیل وېره جدي ده. له بده مرغه دواړه لوري لا هم د سولې پر ځای د زور او جګړې خبرې کوي. د دې پر ځای چې د حسن نیت لپاره مثبت ګامونه واخیستل شي، دواړه اړخونه هڅه کوي چې پر یو بل تورونه ولګوي او فضا خرابه کړي. حکومت پر طالبانو له پاکستان سره د اړیکو تور لګوي، دا نه کوم نوی تور دی او نه هم داسې ده چې خلک په دې اړه معلومات نه لري، خو اوس یې مطرح کول یوازې د سولې د تخریب لپاره کېږي. طالبان هم حکومت ګوډاګی او پردی ګڼي، دا هم کومه نوې خبره نه ده او خلک په دې اړه خپل معلومات او قضاوت لري، خو دا ډول خبرې د سولې پر ځای د جګړه ییزې فضا له واکمنېدو سره مرسته کوي.

حکومت او طالبان دواړه باید نور پر دې ولس رحم وکړي، اوس یو مهم ګام اخیستل شوی، دوی باید خپل ضد او پردۍ اجنډاوې پرېږدي، حسن نیت څرګند کړي او داسې ګامونه واخلي چې له سولې او ثبات سره مرسته وکړي.

# امریکا له اوږدې جګړې وروسته خالي لاس له افغانستانه وځي

لیکنه: ارین کریمزی

تر یو کال سختو مذاکراتو او ۱۱ دورو خبرو اترو وروسته، د تېرې شنبې په ورځ د قطر په پلازمېنه دوحه کې د طالبانو او امریکایي لوري تر منځ یو هوکړه لیک لاسلیک شو. دا هوکړه لیک چې د افغان سولې لپاره د امریکا د ځانګړې استازي زلمي خلیلزاد او د طالبانو دسیاسي دفتر مشر ملا عبدالغني برادر تر منځ د ۳۰ هېوادونو د استازو په حضور کې د امریکا د تاریخ د تر ټولو اوږدې جګړې د پای ته رسولو په موخه لاسلیک شو، پر بنسټ به یې د ۲۰۲۱ ز کال په جریان کې ټول بهرني ځواکونه له افغانستان څخه وځي.

امریکا چې په افغان جګړه کې یې په زرګونو سرتېري وژل شوي او دغه راز یې مالیه ورکوونکو میلیاردونه ډالر تاوان وکړ، په قطر کې د طالبانو او امریکا وروستۍ هوکړه ښیي چې واشنګټن هم لکه د نورو امپراطوریو په څېر له کومې څرګندې لاسته راوړنې پرته په افغانستان کې خپل حضور ته د پای ټکی ږدي او مجبور دي چې له افغانستانه خپل ځواکونه وباسي.

ملا برادر د یادې هوکړې د لاسلیک په مراسمو کې وویل چې دا د افغان مجاهد ملت لپاره ستره بریا ده او دغه راز د دغې ډلې مشر هم دا هوکړه ستره بریا وبلله، چې په خبره یې د افغانانو په مجاهدت او قربانیو لاس ته راغلې ده.

که څه هم په کابل کې د امریکا د دفاع وزیر مارک ایسپیر وویل، که چېرته طالبان له دوی سره پر کړیو ژمنو عمل وکړي، نو تر ۱۴ میاشتو پورې به له افغانستان څخه خپل ځواکونه وباسي او که چېرته سرغړونه وکړي، نو د یادې هوکړې د لغوه کېدو امکان هم شته دی؛ خو د طالبانو مشر خپلو جنګیالیو او پلویانو ته ویلي چې هوکړې ته دې ژمن واوسي، ځکه چې په خبره یې دا هوکړه یې د شرعیت له اصولو سره سمه کړې ده او ټول مجبور دي ورته ژمنتیا وښیي. دا چې طالبان د شویو ژمنو د عملي کېدو وړتیا او ژمنتیا لري او که نه، څرګنده خبره ده چې دا ډله یوه واحده رهبري لري او د مشر اطاعت ته لاس په سینه ولاړ دي، نو په ډاډه ویلی شو چې د شوې هوکړې پر بنسټ به امریکا د انګلستان او شوروي په څېر خالي لاس له افغانستانه پښې سپکوي.

افغانستان چې د امپراطوریو او زبرځواکونو هدیره پېژندل شوی او په درېو تاریخي او سختو جګړو کې یې بریا خپله کړې ده، مهمه ده چې دلته د یادو درېو جګړو تاریخي پس منظر او موخو ته لنډه کتنه وکړو.

پر افغانستان د بریټانیا، شوروي او امریکا پرله پسې یرغلونو کې که څه هم افغانستان ډېر څه له لاسه ورکړي، خو بالاخره د جګړو په ډګر کې بریالي شوي دي او د نړۍ تر ټولو ستر زبرځواکونه یې په ګونډو کړي دي.

د بریټانیا او شوروي اتحاد سترو امپراطوریو له کلونو کلونو جګړو وروسته ونشو کولی چې په افغانستان کې خپل پایدار حضور وساتي.

افغانستان چې کلونه کلونه د خپل جیوپولیټیک موقعیت له امله د ځواکمنو هېوادونو د کشمکش پر میدان بدل شوی دی، بریټانیا له ۱۸۳۹ تر ۱۹۱۹ ز کال پورې په افغانستان کې د جګړو درې ترخې تجربې لري، چې دریو واړو جګړو کله هم کلونه او کله یې بیا په میاشتو میاشتو دوام پیدا کړی دی.

په لومړیو دوو جګړو کې بریټانیا هڅه کوله چې افغانستان د شوروي اتحاد له نفوذ څخه وساتي او په درېیمه جګړه کې یې بیا هڅه دا وه چې د عثماني خلافت له مداخلو یې په امان کړي، خو په دریو واړو جګړو کې یې ماتې وخوړه او بالاخره مجبوره شوه په ۱۹۱۹ ز کال کې د افغانستان سیاسي ازادي ومني او دا هېواد د تل په څېر ازادي خپله کړي.

د ۱۹۷۹ او ۱۹۸۸ ز کلونو په منځ کې د شوروي اتحاد او امریکا تر منځ تقابل چې په وروستیو کلونو کې د سړې جګړې لامل شو، د شوروي په ملاتړ د افغانستان د کمونیست ګوند په ښکېلتیا ۹ کاله دوام وکړ او تر وینې تویېدنې وروسته د افغان مجاهدینو چې د درې ګوني مثلث په نامه د امریکا، پاکستان او ځینو عرب هېوادونو ملاتړ ورسره و، بالاخره شوروي اتحاد ماتې وخوړه. په ۱۹۸۸ ز کال کې یې له افغانستانه د وتلو بې شرمانه تجربه وکړه او د ۱۹۸۹ ز کال تر وروستیو پورې یې خپل ټول ځواکونه له افغانستان څخه وایستل.

تر هغه وروسته بهرنیو استخباراتي کړیو افغان مجاهدین په ډلو ټپلو وویشل او کابل یې د کورنیو جګړو په اور کې وسوځاوه او تر هغه وروسته طالبانو په ډېره کمه موده کې چې د خلکو له لوري ورته د نجات پرښتو نوم ورکړل شو، د مجاهدینو په ماتې برلاسي شول او د افغانستان پر شاوخوا پنځه اتیا سلنه خاوره تر کنټرول وروسته، له شمالي ټلوالې سره په اخ و ډب کې ښکېل شول او د ټلوالې ماتې ته کم وخت پاتې و چې د ۲۰۰۱ ز کال په پیل کې امریکا د طالبانو د تحریک ختمولو په موخه پر افغانستان یرغل وکړ او دا دي تر اتلس کلنې جګړې وروسته دوی هم د نورو په څېر له کومې لاسته راوړنې پرته له افغانستانه وتل ومنل او په ۱۲ میاشتو کې یې په خړ مخ له افغانستانه د وتلو پرېکړه وکړه.

دا چې طالبان له کومه شول، د چا له لوري او څه ډول رامنځ ته شول، بیل بحث دی؛ خو په افغانستان کې یې داسې نظام رامنځ ته کړ چې نه فساد و، نه غلا او نه هم د اوس په څېر نور جرمونه.

دا چې دا هېواد له پیله تر اوسه په جګړو کې د بریا پوړیو ته څه ډول رسېدلی دی، ډېر دلایل لري، خو مهم هغه یې د غرونو په منځ کې د دې هېواد موقعیت دی چې تګ راتګ یې سخت کړی دی او بله هغه یې چې تر ټولو مهمه ده د دې هېواد د وګړو مجاهدت او د یرغل پر وړاندې د دوی ایماني او وجداني غبرګون دی چې وخت په وخت یې د نړۍ سترې او نه ماتېدونکې امپراطورۍ ټېټ سره له دې هېواده وتلو ته مجبوره کړې دي.

دلته که شوې جګړې د افغانانو په بریا پای ته رسېدلې دي، خو بلخوا دا هم مهمه ده چې ووایو په دې هېواد کې روانو ناخوالو دا زېږه، پیاوړي او نه ماتېدونکي خلک د نړۍ له هېوادونو سره له یو ځای سفره هم راګرځولي دي، په لکونو خلک شهیدان، په لکونو ټپیان او په میلیونونو نور یې له هېواده کډوالۍ ته مجبور شوي او دغه راز یې د هېواد مهم بنسټونه په وار وار نړېدلي دي چې دا په تاریخ کې د تکرار شویو شرایطو له امله د دې ولس تر ټولو نه جبرانېدونکې تېروتنې دي.

خو اوس چې د سولې خبرې یو حساس پړاو ته رسېدلې دي، د امریکا او طالبانو تر منځ د شوې هوکړې په لړ کې د تاوتریخوالي کمښت خلک هم سولې ته هیله من کړي دي او په راتلونکې کې پر دې باوري شوي دي چې له جګړو سترې افغانستان امن تصور کړي.

دلته په لنډ ډول د سولې له هوکړې د امریکا موخو ته کتنه کوو.

کارپوهان په دې باور دي چې امریکا له طالبانو سره شوې هوکړه کې یو ستر هدف تعقیبوي او هغه دا چې د یاد هېواد اوسنی ولسمشر ډونالډ ټرمپ غواړي په راتلونکو ټاکنو کې د خپلې بریا لپاره ټول امریکایي سرتېري خپل هېواد ته ستانه کړي او په دې توګه له خلکو سره پر کړې ژمنه عمل وکړي او دا وښیي چې دی څومره خپلو وعدو ته ژمن او په خپلو پرېکړو کې پرېکنده دی. کارپوهان په دې باور دي چې که چېرته امریکا له طالبانو سره هوکړه کړې هم نه وای، امریکا مجبوره وه چې دا هېواد یې پرېښی وای، خو دا تحلیل ځکه ضعیف دی چې که د عراق وضعیت ته وګورو، امریکا په هیڅ صورت په افغانستان کې کړې پانګونه او مصارف له کوم تضمین پرته خپلو رقیبانو ته په خیرات کې نه پرېښودل.

دا چې د امریکا هدف هر څه و/ وي به، خو په ښکاره دا دی چې زبرځواکه امریکا د ملت ارادې ته تسلیم شوه او په دې خاوره کې د تلپاتې حضور خوب یې بېرته له ځان سره امریکا ته یوړ.

اوس مهمه دا ده چې د دې پروسې راتلونکی پړاو چې بین الافغاني مذاکرات دي، باید ملي ارزښتونو ته په پام او هېواد کې د ازادۍ لاسته راوړلو لپاره د قرباني شویو کسانو، شهیدانو، کونډو او یتیمانو د ارمانونو منعکسوونکی وي. په دې پړاو کې د ټولو افغانانو سترګې او هیلې طالبانو او افغان سیاستوالو ته دي چې شخصي عقدې یوې خوا ته او له یو ملي دریځه د سولې خبرو ته حاضر شي.

افغانستان له روانو ناخوالو، بحرانونو را بهر او دا تاریخي تریخ حقیقت چې افغانانو تل جګړې ګټلې او سیاست یې بایللی دی، په ټوله مانا غلط ثابت او د ډیالوګ له لارې په هېواد کې داسې نظام قایم کړي چې د ټولو لوریو لپاره د منلو وړ وي.

وصلح خیر

## سیداکبر اغا: په بګرام او څرخي پله زندان کې د طالب بندیانو د بایومټریک بهیر پیل شوی

د طالبانو او متحده ایالتونو ترمنځ د سولې په هوکړه کې د طالب بندیانو د خلاصون په تړاو که څه هم افغان حکومت ملاحظات لري، خو امریکایي اړخ د یادې هوکړې د پلي کېدو په موخه لومړني اقدامات پیل کړي دي.

طالبانو ته نږدې سرچینو ویلي، د طالبانو او امریکا ترمنځ د سولې هوکړې وروسته له بګرام او څرخي پله زندانونو څخه د طالب زندانیانو خلاصون موضوع په جریان کې ده او د ازادېدونکو طالب بندیانو د بایومټریک لړۍ پیل شوې ده.

پخواني طالب چارواکي سیداکبر اغا ویلي: « د بندیانو خبره په جریان کې ده، هم په بګرام او هم په پلچرخي کې یې بایومټریک شروع دی».



په ورته مهال د ولسي جرګې غړي الله ګل مجاهد ویلي، داسې معلومات یې ترلاسه کړي، چې د بندیانو د خلاصون بهیر به اووه ورځې وروسته پیل شي او د طالبانو د لېست په اساس د ازادېدونکو بندیانو بایومټریک پیل شوی دی.

هغه ویلي: « په بګرام کې د بندیانو د بایومټریک پروسه پیل شوې او په راتلونکو نږدې څو ورځو کې به یې د خوشي کېدو لړۍ پیل شي».

ویل کېږي چې ۲۲۰۰ بندیان په بګرام، ۱۷ سوه په څرخي پله او څلور زره طالب بندیان په ولایتونو کې زنداني دي چې د بین الافغاني مذاکراتو لپاره د باور جوړونې لپاره به دا ګام واخیستل شي.

په ورته مهال په قطر کې د طالبانو سیاسي دفتر ویلي، له کابل څخه د افغان حکومت ورغلي پلاوي سره د دوی هئیت نه دی لیدلی.

سهیل شاهین په خپله ټویټر پاڼه لیکلي چې د طالبانو د بندیانو چارو مسوولین به د افغان حکومت د محابسو له مسوولینو سره د شپږ زره طالب بندیانو د خلاصون لپاره وګوري.

په ورته مهال د ولسمشر د ملي امنیت شورا دفتر په بګرام کې د طالب بندیانو بایومتریک کېدو په تړاو بې خبري ښودلې، خو دغه مسئله په بین الافغاني مذاکراتو کې د یو پکېج په توګه د بحث وړ بولي.

# امریکا او طالبان به څومره په خپلو ژمنو کې بریالي وي؟

لیکنه: نذیر احمد سهار

امریکا او طالبانو په دوحه کې د سولې خپلمنځي هوکړه لاسلیک کړه. د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې له لاسلیک کېدو وروسته، د سولې بهیر تر ټولو مهم او ټاکونکی پړاو بین الافغاني خبرې اترې دي. له طالبانو سره د متحده ایالاتو د هوکړه لیک او له افغان حکومت سره د اعلامیې د محتوا یوه ستره برخه د طالبانو او افغان حکومت تر منځ پر خبرو اترو (بین الافغاني مذاکراتو) ورټوله ده. خو ایا دغه (له سیاسي هوکړې سره مل) خبرې اترې به د هوکړه لیک او اعلامیې د وړاندوینو له مخې په ټاکلې موده کې شونې وي؟

د افغانستان حکومت له متحده ایالاتو سره په خپله گډه اعلامیه کې له طالبانو سره خبرې د اسلامي جمهوریت د مرکچي پلاوي په اډانه کې تعریفوي او وایي، سیاسي هوکړه د طالبانو او د افغانستان اسلامي جمهوریت د ټولشموله پلاوي تر منځ د خبرو په پایله کې رامنځ ته کیږي.

خو د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ په هوکړه لیک کې خبرو اترو ته د بین الافغاني ډیالوگ او بین الافغاني خبرو اترو اصطلاحات کارول شوي، چې دواړه یو تربله توپیر کوي او خبرې په دوو پړاوونو وېشي.

**د مذاکراتو پر ډول اختلاف**

طالبان دا غوره بولي چې د افغان حکومت پر ځای له افغان سیاسي او قومي مشرانو سره خبرې وکړي. طالبان او حکومت وار دمخه د خبرو اترو د ډول په اړه اختلاف لري. طالبان له حکومت سره د خبرو اترو پر ځای له مختلفو ډلو او سیاسي مشرانو سره خبرو اترو ته لومړیتوب ور کوي.

په کابل کې د خبرو اترو پر څرنگتیا د سیاسي کړیو تر منځ اختلافات د دوی دریځ پیاوړی ساتي. دوی ته له یوه واحد ادرس سره تر خبرو اترو، له ډلو او سیاسي- قومي مشرانو سره پایلې ته رسیدل اسانه دي.

خو افغان حکومت غواړي سیاسي مشران او احزاب د انفرادي هڅو پر ځای، د دوی تر چتر لاندې خبرو اترو ته لاړ شي.

افغان چارواکي د سولې د بین الافغاني خبرو اترو اصطلاح ناسمه گڼي. دا ډول خبرې اترې یو خوا له حکومت نه د عمل ابتکار اخلي او بل خوا په کور د ننه او بهر له انزوا سره مخ کېدای شي.

د ولسمشر د عامه او ستراتیژیکو اړیکو سلاکار وحید عمر د دوحې له پرمختگ وړاندې د سولې په یوه ناسته کې وویل، دوی له بین الافغاني اصطلاح سره ستونزه لري.

د هغه په خبره، جگړه د طالبانو او د افغانستان اسلامي جمهوریت تر منځ ده او خبرې اترې هم باید د افغانستان اسلامي جمهوریت او طالبانو تر منځ وي.

د کابل اوسني سیاسي وضعیت ته په پام، بین الافغاني ډیالوگ طالبانو ته دا توان ورکوي چې د راتلونکو پړاوونو لپاره له مختلفو افغاني اړخونو سره یو مساعد او همغږی چاپیریال رامنځ ته کړي. دغه چاپیریال له دوی سره د بین الافغاني مذاکراتو په پړاو کې د برلاسي لپاره کافي مرسته کولای شي.

په دې برخه کې د دوی لپاره د مسکو او دوحې د بین الافغاني ډیالوگ ناستې ښې تجربې وې. افغان حکومت له دې ناستو ښې خاطرې نه لري.

**په اورکم پسې اوربند**

د مذاکراتو بل مهم فکټور اوربند دی. افغان حکومت د خبرو اترو لپاره تر ټولو ډېر پر اوربند ټینگار کوي.

ولسمشر غني د امریکا او طالبانو د خپلمنځي هوکړې له لاسلیک کېدو یوه ورځ وروسته، د مارچ په لومړۍ نېټه په یوه خبري غونډه کې وویل، دی هیله من دی چې اوسنی اورکم به پر اوربند بدل شي.

خو طالبان اوربند د بین الافغاني خبرو اترو د اجنډا برخه گڼي. د امریکا او طالبانو تر منځ په لاسلیک شوې هوکړه کې ویل شوي، اوربند به د افغانستان د راتلونکې سیاسي نقشې (Political Road Map) له بشپړېدو او پر هغې له هوکړې سره سم، د دې روډ مپ د یوې برخې په توگه اعلانیږي.

د افغان ځواکونو او طالبانو تر منځ اوربند د مذاکراتو بل مهم ټکی دی. طالبان چې ترڅو د امریکایي ځواکونو له وتلو ډاډمن شوي او یوې سیاسي هوکړې ته رسېدلي نه وي، ډاگیز اوربند نه کوي.

په دې موده کې به دوی یوازې له بهرنیو ځواکونو سره جگړه نه کوي. طالبان به په هوکړه لیک کې پر شویو ژمنو یوازې په هغو سیمو کې مکلف وي، چې د دوی تر ولکې لاندې دي.

دوی ښایي په دې ۱۴ میاشتو کې چې له امریکایي ځواکونو سره پر یوه او بل د برید نه کولو ژمنتیا لري، کوښښ وکړي چې زیاتې سیمې تر ولکې لاندې راولي او د خبرو اترو پر میز له پیاوړي دریځه راځرگند شي.

په دې موده کې به بهرني ځواکونه د افغان ځواکونو پوځي ننگې او ملاتړ ته ونه دانگي. د افغان حکومت او امریکا اعلامیه وړاندوینه کوي چې دواړې خواوې به له القاعدې، داعش او نورو نړیوالو ترهگرو ډلو سره چې امریکا، د امریکا متحدانو او افغانستان ته گواښ پېښوي، جگړه روانه ساتي.

دلته د نړیوالو ترهگرو اصطلاح کارول شوې، چې طالبان پکې نه دي شامل شوي. گډې اعلامیې د امنیتي تړون په اډانه کې د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ملاتړ د وړتیاو په لوړاوي او د هغو نړیوالو ترهگرو ډلو خلاف د افغان ځواکونو په ملاتړ پورې محدود کړی، چې متحده ایالاتو او د هغه متحدانو ته گواښ پېښوي. مانا دا چې متحده ایالات د طالبانو او افغان حکومت تر منځ په جگړه کې کار نه لري.

که پر اوربند هوکړه ونشوه، نو طالبان ښایي پر افغان ځواکونو بریدونو ته دوام ورکړي. د طالبانو او متحده ایالاتو تر منځ په هوکړه لیک کې د ټولو ځواکونو وتل قید شوي، خو استخباراتي ځواکونو ته چې د امریکا ولسمشر یې په مکرر ډول په افغانستان کې پر پاتې کېدو ټینگار کوي، نغوته نه ده شوې.

**د پنځو زرو بندیانو خوشې کېدل**

د بندیانو خوشې کېدل چې ډېری یې د افغان حکومت په زندانونو کې دي، د هوکړه لیک د پلیتابه او خبرو اترو د پیل کېدو په برخه کې یوه بله ننگونه ده.

افغان حکومت به د زندانیانو په مسئله کې له متحده ایالاتو او طالبانو څخه د امتیاز تر لاسه کولو په لټه کې وي.

له افغان حکومت سره د متحده ایالاتو هوکړه وړاندوینه کوي چې د طالب بندیانو ځینې زندانیان به د کب تر شلمې پورې چې بین الافغاني خبرې پیلیږي، خوشې شي او پاتې نور به درې میاشتې وروسته خوشې کیږي.

خو ولسمشر غني له دغه هوکړه لیک یوه ورځ وروسته وویل چې دی له واشنگټن سره د طالبانو د زندانیانو پر خوشې کولو کومه هوکړه نه لري، ځکه دا د افغان حکومت صلاحیت دی او په خبرو اترو کې به بحث پرې کیږي.

ولسمشر غني ویلي، د طالب بندیانو د خوشې کولو صلاحیت له افغان حکومت سره دی.

د انس حقاني خوشې کېدو ته په کتو چې د افغان حکومت لپاره نابېره کار و، دا اټکل کیدای شي چې د طالبانو زندانیان به له ځنډ او خنډ سره سره، خوشې شي. البته د بندیانو په برخه کې طالبانو ته دا قید ایښودل شوی چې «یو به هم امریکا ته زیان نه رسوي».

خو احتمالاً که یوه بندي هم کومې بلې ډلې ته پناه یوړه، لکه داعش او القاعدې ته، د طالبانو لپاره به سرخوږی پیدا کړي.

«په افغانستان کې د سولې راوستلو لپاره د امریکا او طالبانو موافقتنامه» کې د متحده ایالاتو او طالبانو تر منځ ټولې شوې ژمنې د دواړو خواو په ژمنتیا پورې مشروطې دي.

نو طالبان که په هره ژمنه کې پاتې راځي، امریکا ته به په افغانستان کې د پاتې کېدو فرصت ورکوي.

د دواړو خواوو تر منځ د قطر څو پړاویزو خبرو ته په پام، دا اټکل ښایي بېځایه نه وي چې د بین الافغاني خبرو تر سره کیدل او یوې سیاسي هوکړې ته رسیدل به چې د امریکایي ځواکونو وتل هم ورسره مشروط دي، ډېر وخت واخلي.

# تر هوکړې وروسته تاوتریخوالی؛

## ملي او نړیوالې اداري د اورکم د دوام غوښتونکې دي



د امریکایانو او طالبانو تر منځ د سولې هوکړې تر لاسلیک یوازې یوه ورځ وروسته، په هېواد کې د طالبانو بریدونه هم پیل شوي دي. د راپورونو له مخې، د طالبانو نظامي کمېسیون خپلو وسله والو ته ویلي چې پر افغان ځواکونو خپلو بریدونو ته دوام ورکړي او له بهرنیو ځواکونو سره به د توافق له مخې چلند کېږي. بلخوا په افغانستان کې د امریکایي او ناټو ځواکونو عمومي قومندان د اورکم د دوام غوښتنه کړې ده. ناټو او اروپایي ټولنې هم د طالبانو له لوري د تاوتریخوالي بیا پیلېدل غندلي دي. د امریکا د دفاع وزیر هم وایي چې تاوتریخوالی باید کم کړل شي او دایمي سولې ته دې لار هواره شي.

طالبانو او امریکایانو په خپلو کې د سولې هوکړه لاسلیک کړه. د هوکړې له لاسلیک سره سم اندېښنه دا وه چې ښایي له دې وروسته بهرني ځواکونه مصؤن وي، خو د طالبانو او افغان ځواکونو تر منځ به جگړه روانه وي. په تېرو دریو ورځو کې دا خبره ثابته شوه او طالبانو په ډېرو سیمو کې پر افغان ځواکونو بریدونه کړي دي. د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، له دوشنبې ورځې راهیسې وسله والو طالبانو په ۱٦ ولایتونو کې بریدونه کړي دي. په دې بریدونو کې د امنیتي ځواکونو تر څنگ، عامو وگړو ته هم مرگ ژوبله اوښتې ده. د کورنیو چارو وزارت د معلوماتو له مخې، طالبانو په بلخ، بادغیس، اروزگان، زابل، جوزجان، لوگر، پکتیا، پکتیکا، وردگ، بلخ، لغمان، هرات، کندهار، هلمند، خوست، سرپل او تخار کې وسله وال بریدونه کړي دي.

د کورنیو چارو وزارت مرستیالې ویاندې مروې امیني مسیر ورځپاڼې ته وویل چې د طالبانو په دغو بریدونو کې ملکي وگړو ته هم مرگ ژوبله اوښتې ده. د نوموړې په خبره، طالبانو په ۲۴ ساعتونو کې په ۱٦ ولایتونو کې ۳۳ بریدونه کړي دي. مروه زیاتوي: «له بده مرغه په دې بریدونو کې ٦ ملکیان شهیدان شوي او ۱۴ نور ټپیان دي.»

د تاوتریخوالي له پیل سره سم ملگري ملتونه په افغانستان کې د اورکم د دوام غوښتونکي دي. په کابل کې د ملگرو ملتونو استازی تادامیچي یاماموتو وایي، د اورکم دوام دایمي اوربند ته زمینه برابروي او د عامو وگړو د وژنې او ځورېدنې مخنیوی کوي. د نوموړي په خبره، ښکېلو غاړو ته پکار ده چې د سولې د راتگ او باور جوړولو لپاره د اورکم موده وغځوي. د یوناما مشر وایي چې دایمي سوله یوازې د خبرو له لارې راتللی شي او بریالي مذاکرات هغه مهال تر سره کېږي چې اورکم تر اوربند پورې ورسول شي.

بلخوا په کابل کې د اروپایي ټولنې استازي رولانډ کوبیا هم د اورکم پر دوام او د تاوتریخوالي پر کمولو ټینگار کوي. هغه وایي: «که چېرته د طالبانو له خوا د تاوتریخوالي د بیا پیلېدو رپوټونه تایید شي، دا به د هغې هوکړې سره په ټکر کې وي چې په دوحه کې لاسلیک شوه.»

تر دې وړاندې په افغانستان کې د ناټو او امریکایي ځواکونو عمومي قومندان جنرال سکاټ مېلر هم د تاوتریخوالي د کمولو او اورکم د دوام غوښتنه کړې وه. د مېلر په خبره، طالبان باید پر هوکړه عمل وکړي، له جگړو لاس واخلي، بین الافغاني خبرو ته کېني او تاوتریخوالی راکم کړي. وسله والو طالبانو بیا د دغو څرگندونو په اړه څه نه دي ویلي، خو خپلو وسله والو ته یې پر افغان ځواکونو د بریدونو امر کړی دی.

د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد بیا وایي چې له بهرنیو ځواکونو سره د هوکړې مطابق چلند کېږي. په دې مانا چې پر دوی به بریدونه نه کېږي، خو له افغان لوري سره به جگړه روانه وي.

د امریکا د دفاع وزیر مارک اېسپر هم پرون په یوه خبري غونډه کې د دې غوښتنه کړې چې اورکم دوام وکړي او په افغانستان کې روانه جگړه د مذاکراتو له لارې حل کړل شي. هغه ویلي، دوی د هوکړې عملي کولو ته ژمن دي او د خپلو ځواکونو د وتلو لومړني اقدامات به پیلوي.

# د روغتیا نړیوال سازمان: د کرونا ویروس پر وړاندې روانه مبارزه گټوره ده او باید لا پراخه شي

د روغتیا نړیوال سازمان ویلي، د کرونا ویروس پر وړاندې د مبارزې روان اقدامات گټور دي، خو لا پراختیا ته اړتیا لري. د دغه سازمان مشر په یوه خبري غونډه کې د خبرو پر مهال ویلي چې په ټوله نړۍ کې د کرونا ویروس د پراختیا او کنټرول بهیر ځاري. د سرچینې په خبره، د نړیوالو له لوري د دغه ویروس پر وړاندې مبارزه گټوره ده، خو دوی هیله لري چې دغه اقدامات لا قوي، پراخ او اغېزناک شي.

د روغتیا نړیوال سازمان دغه راز ویلي، نړیوال باید د دغه ویروس پر وړاندې یو لاس شي؛ ځکه دا هر هېواد ته گواښ پېښولی شي. دغه سازمان له ځینو هېوادونو لکه ایران سره هم همکاری پیل کړې دي او تازه یې د ویروسونو متخصصین او د سل زرو کسانو د شخصي خوندیتوب لومړني وسایل ایران ته استولي دي. دا په داسې حال کې ده چې په دې وروستیو کې ډېرو هېوادونو ته د دغه ویروس د لېږدېدو له کبله په نړیواله کچه اندېښنې راپورته شوې دي.

تازه دغه ویروس عربي هېوادونو ته هم خپور شوی دی. په سعودي عربستان، اردن، قطر او مراکش کې پر دغه ویروس د اخته کېدو پېښې ثبت شوې دي. د سعودي عربستان د روغتیا وزارت ویلي، په دغه هېواد کې پر کرونا ویروس اخته یو کس ثبت شوی چې ویل کېږي د تونس هېواد دی او له ایټالیا ورغلی دی. ځینې رپوټونه بیا وایي چې پر کرونا اخته دغه کس له ایرانه د بحرین له لارې سعودي ته تللی دی. د اردن د روغتیا وزارت هم ویلي چې پر کرونا ویروس یو اخته اردنی وگړی له ایټالیا ورغلی، خو وایي، یو بل کس یې قرنطین کړی دی. په مراکش کې هم چارواکو ویلي چې په هېواد کې یې د یاد ویروس مثبته پېښه ثبت شوې ده او له دې سره جوخت بیا په قطر کې هم د کرونا اووه پېښې ثبت شوې دي.

په ورته وخت کې په امریکا د دغه ویروس له امله د وژل شوو کسانو شمېر شپږو ته لوړ شوی دی. امریکایي روغتیایي کارکوونکو ویلي، پرته له دې چې ځوک متوجه شي له څلورو اونیو راهیسې کرونا په امریکا کې خپره شوې او د دې احتمال شته چې ۱۵۰۰ کسان ورباندې اخته شوي وي. تر اوسه شپږ امریکایان دغه ویروس وژلي دي. بلخوا د روغتیا نړیوال سازمان له ټولو هېوادونو غوښتي چې د دغه ویروس د پراختیا پر وړاندې د مبارزې لپاره دې هر اړخیز او مهم گامونه اوچت کړي.

## د کتــاب خبــري

# د رهبرۍ اخلاق

◎ لیکوال: جان مکسویل
◎ ژباړن: میراحمد یاد

### ۷ میداس لمس به څنګه جوړوو؟




**۲. دویم میل تاسو لاړ شئ!**

زه د لیډرشیف په زیاتره کنفرانسونو کې دا لرغوني ټوکه کوم چې: ځینې شمېرې په ډېر دقیق ډول ښیي چې تاسو ولې ستړي یئ. ته چې څومره فکر کوې، دومره خلک کار نه کوي او خصوصا د دې سروې له مخې خو یې بیخي نه کوي.

- د دې هیواد (امریکا) نفو س نږدې( ۲۵۰٬۰۰۰,۰۰۰ )تنه دی.
- ۸۴٬۰۰۰٬۰۰۰ یې له ٦۴ کلنۍ لوړ دي او کور ناستي شوي، نو ټول ۱٦٦٬۰۰۰٬۰۰۰ تنه کار ته پاتې شول.
- په دې کې بیا ۹۵٬۰۰۰٬۰۰۰ تر شل کلنۍ ښکته دي، نو ۷۱٬۰۰۰٬۰۰۰ تنه د کار خلک پاتې شول.
- په دې کې بیا ۲۷٬۰۰۰٬۰۰۰ تنه په دولت کې کار کوي، نو ۴۴٬۰۰۰٬۰۰۰تنه پاتې شول.
- له دې بیا ۱۴٬۰۰۰٬۰۰۰تنه په وسله والو ځواکونو کې دي، نو د کار لپاره ۳۰٬۰۰۰٬۰۰۰ تنه پاتې شول.
- په دې کې بیا ۲۰٬۰۰۰٬۰۰۰ د ښار او ایالت د دفترونو وباسه. نو کار ته یوازې ۱۰٬۰۰۰٬۰۰۰ پاتې شول.
- له دې بیا نږدې ٦٬۰۰۰٬۰۰۰ تنه په روغتونونو او نورو کمپونو کې دي، نو د کار خلک یوازې ۴٬۰۰۰٬۰۰۰پاتې شول.
- اوس به تاسو ته دا جالبه وي چې( ۳٬۹۹۹٬۹۹۸) تنه په زندانونو کې دي، نو ټول پیټی یوازې ۲ تنو ته په اوږه دی.

په دې دوو تنو کې یو زه یم او یو ته یې، او زه هم تقریبا خپلې رخصتۍ ته تیاری نیسم.
دا ټوکه به مبالغه امېزه وي؛ خو حقیقت پکې شته. په نړۍ کې به داسې ډېر خلک وي چې په خپله اندازه کار نه کوي.
څوک چې لږه هڅه کوي، په ژوند کې د ځان او نورو لپاره ډېر څه نه شي ترلاسه کولای. ټلویزیوني ویانده اوپرا وینفري وایي:((په اوسنۍ شېبه کې زما ښه کار مې په راتلونکې شېبه کې ښه ځای ته بیایي.)) زه دا خبره منم. دا خبره نه یوازې په کار، بلکې په شخصي اړیکو کې هم سمه ده. په دې خاطر درته وایم چې دویم میل تاسو ولاړ شئ. پر دې به مو هم پوه کړم چې دا خبره څه مانا لري.
دوه زره کاله مخکې په رومي امپراطورۍ کې یوه رومي مامور هر څوک اړویستل چې یو پېټی تر یوه میله یوسي. دا د مامور حق و او هر چا به له وېرې وړلو. نو تر یو میل واټنه د دې پیټې وړل مجبوریت و. زه تاسو ته وایم چې یو میل خو لاړ شئ؛ خو هڅه وکړئ چې تر هغو هم مخکې پسې ورشئ. بل میل داسې یو فرصت وګڼئ چې د نورو خلکو په ژوند کې یو مثبت بدلون راولئ او هغوی ته ارزښت ورکوئ.
کوم کسان چې لږ وړاندې ځي، عموما هغه کسان وي چې:

- تر هغې ډېر پام کوي چې خلک یې اړین بولي.
- تر هغې ډېر احتیاط کوي چې خلک ځان خوندي پکې بولي.
- تر هغې ډېرې هیلې لري چې خلک وایي همدومره پوره کېږي.
- تر هغې ډېر تمه لري چې خلک وایي همدومره امکان لري.
- تر هغې ډېر کار کوي چې خلک وایي همدومره بس دی.

په اوسنۍ شېبه کې زما ښه کار مې په راتلونکې شېبه کې ښه ځای ته بیایي.
اوپرا وینفري
زما ملګری زیګ زېګلر وایي:((تاسو چې بل میل زیات ځئ، نو هلته هېڅ ګڼه ګوڼه نه وي.)) که له تمې لوړ یا ډېر کار وکړئ، نو نه یوازې تاسو به له ګڼې ګوڼې مخکې شئ، بلکې له نورو سره به هم مرسته وکړئ چې له تا سره ووزي.
تاسو چې بل میل زیات ځئ، نو هلته هېڅ ګڼه ګوڼه نه وي.
زیګ زېګلر


**۳. له هغو سره مرسته وکړئ چې مرسته نه شي درسره کولای!**

زموږ کلتور د سیالۍ دی. کاروبارونه داسې جوړ شوي چې خپل سیالان ختم کړي. سپورتي لوبډله په خپله مقابله لوبډله کې کمزورۍ لټوي چې دوی ګټه ترې واخلي. ټلویزیوني سیالۍ خلک له یو بل سره په دې جنګوي چې وګوري، څوک تر وروستي پړاوه تللی شي. موږ زیاتره وخت خپله بریا په دې تعریفوو چې تر نورو څومره ښه یا مخکې یو او موږ چې له نورو سره مرسته کوو، نو بیا مو هم ټینګار دا وي چې دا باید زموږ لپاره ګټه (بریا) وي. موږ زیاتره وخت د لیکوال جون بنیان په څېر فکر نه کوو چې وایي:((که تاسو بل چا ته داسې څه نه وي کړي چې هغه یې بدل نه شي درته خلاصولای، نو تاسو نن ورځ بریالی ژوند نه دی کړی.)) نو که موږ په لوړه کچه او ښه ژوند غواړو، دا باید وکړو. د دا ډول مرستې په اړه ما ته یوه ښایسته بېلګه د( ۱۹٦۴ ز) د المپیک په ژمنیو سیالیو کې رامخې ته شوه. په هغه وخت کې د واورې ښویېدنې د تکړه لوبډلې غړی ایګوینو مونټي یو په یو سیالۍ کې و. ایټالوي لوبډله په لومړۍ پاټۍ کې ښه وه. د برېټانیا د لوبډلې نه ټوني ناش لګیا و، دوی په لومړۍ پاټۍ کې دومره ښه نه وو. مونټي په دویمه پاټۍ کې په لومړي مقام کې و او ویل یې چې که برېټانویان ترې مخکې نه شي، نو دی او ملګری یې د سرو زرو مډال ګټلای شي. **دوام لري...**

# د یوویشتمې پېړۍ امیرالمؤمنین

اکسوس کتابپلورنځی

ملا محمد عمر له ۱۹۹٦ ز کال تر ۲۰۰۱ ز کال پورې په افغانستان کې د طالبانو د رژیم مشر و.
دی یو له هغو کسانو و چې د امریکا متحده ایالتونه پسې ګرځېدل او د ده د موندلو لپاره یې لس میلیونه ډالر اېښې وو.
د لومړي ځل لپاره طالبانو څو کاله مخکې د ملا محمد عمر ژوندلیک په خپل ویب سایټ خپور کړ. کله چې طالبانو دا کار وکړ، ځینو څېړونکو وویل چې د دې لپاره یې داسې کړي دي چې د ملا عمر د مرګ اوازو ته ځواب ووایي.
ملا محمد عمر په ۱۹۵۹ ز کال کې د کندهار په خاکریز ولسوالۍ کې په یوه بې وزله کورنۍ کې وزیږید. ویل کیږي چې له پلاره یې نه کور درلود او نه هم ځمکه. د ده پلار هم ملا و. د ملا عمر پلار غلام نبي چې کله مړ کیده، زوی یې درې کلن و.
ملا عمر له پلاره یو زوی، خو د هغه له وفات وروسته د ده مور له مولوي محمد انور سره چې د ملا عمر تره دی، واده وکړ او درې ناسکه وروڼه او څلور خویندې یې وزیږېدې. مولوي انور ملا عمر ته ابتدایي دیني تعلیمات ورکړل او بیا د دوی کورنۍ اروزګان ته ولاړه او هلته یې تره په یوه جومات کې امامت پیدا کړ. کله چې د پخواني شوروي اتحاد پوځیان افغانستان ته راغلل، ملا محمد عمر شاوخوا نولس کلن و. هغه وخت دی د کندهار په میوند ولسوالي کې و او له مجاهدینو سره یوځای شو.
طالبان وایي چې ملا محمد عمر د شوروي ځواکونو پر مهال څلور ځله ټپي شو او یوه سترګه یې هم هغه وخت ړنده شوه. ملا محمد عمر د مولوي محمد خالص اسلامي حزب له قوماندان ملا نیک محمد سره په جبهه کې و.
په کابل کې د ډاکټر نجیب د حکومت تر سقوط وروسته، چې د مجاهدینو ډلو په خپلو کې جګړې پیل کړې، ملا محمد عمر په کندهار کې و او بیا یې په ۱۹۹۴ ز کال کې د طالبانو مشر شو. ده ته په ۱۹۹٦ ز کال کې د کابل په ګډون، د افغانستان د ډېرو سیمو له نیولو وروسته طالبانو د امیرالمؤمنین لقب ورکړ.
ملا محمد عمر د خپل نږدې پنځه کلن واک پر مهال په کندهار کې پاتې شو. په دې موده کې د ده او القاعده شبکې اړیکې دومره ټینګې شوې چې د امریکا متحده ایالتونو له ګواښونو سره سره ده د اسامه بن لادن دفاع وکړه او هغه یې له افغانستانه ونه ایست. بیا چې په ۲۰۰۱ ز کال کې القاعده شبکې په واشنګټن او نیویارک کې تروریستي بریدونه وکړل، د امریکا متحده ایالتونو په مشرۍ نړیوالو ځواکونو د طالبانو رژیم ړنګ کړ او له هغې مودې را وروسته، د طالبانو مشر ترې تم شو. په ۲۰۰۴ ز کال کې د ملا عمر په غږ وروستی پیغام خپور شوی دی او تر دې نیټې را وروسته وخت په وخت د ده په نوم چاپي اعلامیې خپرې شوې او غږیزې اعلامیې د نورو کسانو په اوازونو د ملا عمر له لورې ویل شوې دي.
مینه وال کولای شي یاد کتاب پر اکسوس سربېره، د ښار له نورو لویو کتابپلورنځیو په مناسب قیمت تر لاسه کړي.




## روانه اونۍ اکسوس کتاب پلورنځي ته تازه راغلي کتابونه

Aksos

| شمېره | د کتاب نوم | لیکوال / ژباړن | بیه |
|---|---|---|---|
| ۱ | مبانی سازمان مدیریت | خلیل الرحمن سروری | ۳۵۰؋ |
| ۲ | ۸۸ روز تا قندهار | رابرت ال.گرینییر/سنجر سهیل | ۳۵۰؋ |
| ۳ | فرستاده | زلمی خلیل زاد/هارون نجفی زاده | ۳۵۰؋ |
| ٤ | شبکه های کمپیوتری | عبدالرقیب افضلی | ۲۰۰؋ |
| ۵ | امراض سیستم معدی معایی | حبیب الله محبوب | ۲۷۰؋ |
| ٦ | بیماری های قلبی و عایی | نادر احمد اکسیر | ۳۸۰؋ |
| ۷ | امراض گوش گلو و بینی | باصره شریفی | ۲۵۰؋ |
| ۸ | امادگی مطمین برای امتحان تخصص صحت عام جلد اول | امان الله امعانی | ۲۷۰؋ |
| ۹ | کلید کامیابی در ازمون خدمات ملکی | امیرگل امینی | ۱۸۰؋ |
| ۱۰ | سیاست افغانستان روایتی از درون جلد اول و دوم | رنگین دادفر سپنتا | ۹۵۰؋ |
| ۱۱ | از پادشاهی مطلقه الی سقوط جمهوری دموکراتیک افغانستان | عبدالوکیل | ۱۱۵۰؋ |
| ۱۲ | لغت نامه اساسی اقتصاد | قیس محمدی | ۱٦۰؋ |
| ۱۳ | بانک سوالات تحریری و مصاحبه کاری | مسیح الله حقجو | ۱۳۰؋ |
| ۱٤ | رازهای القاعده و پاکستان | اعزاز سید/فردوس کاوش | ۱۵۰؋ |
| ۱۵ | قدرت و کنترول رسانه ها | بهار توانگر | ۲۰۰؋ |
| ۱٦ | لطفا گوسفند نباشید! | محمود نامی | ۱۵۰؋ |
| ۱۷ | اصول سیاست خارجی و سیاست بین الملل | سید عبدالعلی قوام | ۱۷۰؋ |
| ۱۸ | اصول روابط بین الملل الف و ب | سید حسن سیف زاده | ۲۲۰؋ |
| ۱۹ | بایسته های حقوق بین الملل عمومی | رضا موسی زاده | ۲۰۰؋ |
| ۲۰ | مدیریت منابع انسانی | اسفندیار سعادت | ۱۲۰؋ |
| ۲۱ | مدیریت عمومی | علی علاقه بند | ۱۵۰؋ |
| ۲۲ | آموزش دانش سیاسی | حسین بشیریه | ۱۲۰؋ |
| ۲۳ | بانک سوالات مدیریتی جلد اول و دوم | عزت الله توحیدی فرخاری | ٦٦۰؋ |
| ۲٤ | بنیادهای علم سیاست | عبدالرحمن عالم | ۱۲۰؋ |
| ۲۵ | اصول و انواع تحقیقات علمی | احمد فرید دانش | ۱۵۰؋ |
| ۲٦ | تفهیم التفاسیر ۱۲ جلده | مفتی عبدالهادی حماد | ٤۰۰۰؋ |
| ۲۷ | مبانی و اصول اداره و مدیریت | عبداللطیف رحمانی | ۲۵۰؋ |
| ۲۸ | جزا پیژندنه | حفیظ الله دانش | ۲۰۰؋ |
| ۲۹ | د بانکدارۍ حقوق | مصطفی نیازی | ۲۰۰؋ |
| ۳۰ | د یوویشتمې پېړۍ امیرالمومنین | اصف ژمن | ۱۰۰؋ |

**په خپل کور او کار ځای کې د کتابونو د تر لاسه کولو لپاره له لاندې شمېرو سره اړیکه ونیسئ**

پته: دهبوریو پارک جنوبي دروازې ته مخامخ    اړیکه: 0798-98-9696 - 0202504652

## همیانۍ

# که ژمن او متعهد وی، هرڅه ممکن دي

ژباړه: امان الله «حنیفي»

د ۱۹۹۹ ز کال د ډسمبر تر درېیمه زما ژوند ښه و، نه، ښه ده چې ووایم دا وخت مې ژوند ډېر ښه و. دا وخت ۲۰ کلن وم او یو کال کېده چې له کالج څخه فارغ شوی وم. زه ۱۸ میاشتې مخکې د بازارموندنې په یو لوی شرکت (۲۰۰ میلیون ډالري) کې پر دنده لګیا وم او هغه وخت مې له اندازې زیاته ګټه درلوده. تر ټولو ښه مېرمن، ښه ملاتړې کورنۍ او ممکن تر ټولو ښه دوستان مې درلودل. زه رښتیا چې خوشبخته وم، ممکن تاسې ووایی چې زه د دنیا د خوښیو په اوج کې وم، ما هېڅکله دا فکر نه کاوه چې نن شپه به زما دا دنیا ړنګېږي.

د شپې۱۱:۳۲ دقیقې په ۹۹ شمېره لویه لار په ۱۱۰ لوړ سرعت سره روان وم. یوازې موږ دوه کسان وو، مېرمن مې په لومړي سیټ کې بخارۍ ته د یو څه په اړه په فکر کې ډوبه ناسته وه، خو زه بیا داسې نه وم، زما حواس پر ځای وو، هرڅه مې ښه تعقیبول او له پلې شوي موزیک سره مې د ګوتو پړق ایست.

د هغې شپې خوښۍ مې خوب له سره وړی و، هغه وخت په خپل سپین رنګ لرونکي ریبو فور موټر کې په ۱۱۰ سرعت روان وم او له هغې ښې وینا چې تر اوسه مې بل ځای نه وه کړې، دوه ساعته تېرېدل.

په ژوند کې تر ټولو اغېزناک تشویق مې تر لاسه کړی و او له دې صحنې ډېر خوښ وم. غوښتل مې له دې صحنې د مننده‌ویۍ احساسات له یو چا سره شریک کړم، خو مېرمن مې دا وخت ویده وه. غوښتل مې له خپل مور او پلار سره اړیکه ټینګه کړم، خو دا وخت د شپې ناوخته و او ممکن هغوی به هم ویده وو. باید ډېره ژر مې له هغوی سره اړیکه نیولې وی، زه هغه وخت نه وم خبر چې بیا به تر ډېره له مور، پلار او نور چا سره د اړیکې نیولو فرصت ونه لرم.

د تصور نه وړ حقیقت

اصلاً مې دا په یاد نه دي چې له بلې خو د را روان لوی موټر څراغونه چې زما سترګو ته مخامخ وو، ما دې لیدلي وي. یوناڅاپه همدا لوی موټر احتمالاً په ۱۳۰ سرعت کې زما په خوا را روان و، چې زموږ له موټر سره یې ټکر وکړ. له دې پېښې څو دقیقې وروسته مې په یاد دي چې په موټر کې پلې شوی موزیک په ډېر ټیټ اواز غږېده. زموږ موټر ټکر شو او د ټکر غږ یې تر ډېرو پورې لاړ. زه بې هوښه شوم، اوس مې هم په ذهن کې په ۱۱۰ سرعت موټر ځغلاوه، سر مې سخت درد کاوه او د موټر مخکینۍ برخه مې سخته ژوبله شوې وه.

موټر مې سخت ژوبل شوی و، داسې چې د ډرایور طرف یې تر اخره یو مخ چیت چمبول و. د هغه لوی موټر ډرایور چې ۱٦ کلن و، په ۱۱۰ سرعت له ما سره ټکر وکړ، دې پېښې زما د بدن کیڼ طرف سخت ژوبل کړ. سر مې د ډرایور د څوکۍ او سیوچ بورډ تر منځ ګیر و، چې کیڼ غوږ مې تقریباً ټول پرې شوی و. د کیڼې سترګې کاسه مې ماته شوې وه او د کیڼې سترګې ګاټې مې په وحشتناک ډول بیرون ته راوتلی و. کیڼ لاس مې مات او د اعصابو رګونه یې پرې شوي وو. د بازو مات شوی هډوکی مې له پوست بیرون راوتلی و. پر ملا مې له دریو خواوو وزن راغلی و. بالاخره مې د کیڼ زنګون لوی هډوکی چې د بدن تر ټولو لوی هډوکی دی، هغه هم مات شوی و او راوتلي سر یې مې تورې جامې سورۍ کړې وې. هرڅه په وینو ککړ وو، بدن مې سخت زیان لیدلی و او مغز مې د ټول عمر لپاره ضربه خوړلې وه. د سخت درد له امله بې هوښه شوی وم، د وینې فشار مې ټیټ شوی و، په سترګو مې توره شپه وه او زه د کوما په حالت کې وم. یوازې تاسې دوه ځلې ژوند کوی؟

هغه پېښې چې له دې ټکر وروسته له ما سره وشوې، رښتیا هم د منلو نه وې او ځینې دا پېښې خو بیخي معجزې وې. د پېښې ساحې ته امبولانس راغلی و او په ځانګړو وسایلو سره یې زه له موټره راښکلی وم. له هغه وروسته چې زه یې له موټره راښکلی وم، ډېره وینه مې له بدنه تللې وه، زړه مې حرکت پرې ایښی و او ساه ویستل او اخیستل مې هم بند شوي وو. ظاهراً په سترګو مړ معلومېدم.

متخصصانو د هلیکوپټر د ننه زما د ژوندي پاتې کېدو لپاره هڅې کړې وې، هغوی ما ته نجات راکړی و. شپږ دقیقې وروسته هغوی بریالي شوي وو، زما زړه بیا پر حرکت راغلی و، خدایه شکر! زه ژوندی پاتې شوی وم.

زه شپږ ورځې په کوما حالت کې پاتې شوی وم او کله چې په هوښ راغلم، خبر شوم چې نور ممکن هېڅ وخت هم ونه شم کړای چې پر لاره پیاده ولاړ شم. په روغتون کې له اووه دوره یې تمرین وروسته چې هلته مې پر لاره تلل تمرینول، بیا اصلي دنیا ته را وګرځېدم او نور په کور کې د مور او پلار تر مراقبت لاندې وم.

۱۱ هډوکې مې مات شوي وو، مغز مې سخته ضربه خوړلې وه او مېرمن چې زه په روغتون کې وم، له ما جدا شوې وه، هغې بلې دنیا ته کډه کړې وه. په داسې شرایطو کې ما هېڅکله بیا نه شوای کولای چې خپل تېر ژوند یو ځل بیا تجربه کړم، خو باور وکړئ، دا زما لپاره یوه ښه پېښه وه.

له نوو شرایطو سره جوړ راتلل راته یو څه سخت وو او ځینې وخت خو به مې په دې اړه هېڅ فکر نه شوای کولای چې ولې داسې پېښه راسره وشوه. په هر صورت، باید بیا ژوند ته راګرځېدلی وی او د هغه ټول مسوولیت مې منلی وی. فعلي شرایط مې منلي وی.

ما وویل، خپله انرژي باید پر بې ګټو موخو ونه لګوم او ټول تمرکز پر دې وکړم چې له فعلي شرایطو ښه استفاده وکړم. ما نه شوی کولای چې تېر وخت بدل کړم، همدا وو چې د ورځني وضعیت پر ښه والي مې تمرکز وکړ. له دې پېښې وروسته ما خپل ټول عمر دې ته وقف کړ چې د خپلو بالقوه وړتیاوو په واسطه خپلو موخو ته ورسېږم او پوهېږم چې څنګه کولای شم دا توانایي په خپلو شاوخوا کسانو کې پیدا کړم.

له دې پېښې وروسته زه دې پایلې ته ورسېدم چې باید ډېر د زړه له خلاصه د خدای پاک په ټولو راکړل شوو نعمتونو شکر وباسم. د ځینو څیزونو لرل ومنم او هغو څیزونو ته د رسېدو مسوولیت پر خپله غاړه واخلم چې زه ورته رسېدل غواړم. په دې دلیل، فکر کوم هغه ویرانوونکې پېښه زما په عمر کې تر ټولو ښه هغه یې وه چې زما په حق کې وشوه.

زه باور لرم چې هېڅ یوه پېښه هم په ژوند کې بې دلیله نه رامنځ ته کېږي او موږ باید ښه او بد دلایل، د ټولو پېښو، ننګونو او د ژوند د شرایطو لپاره ومنو. له همدې ذهنیته په ګټې اخیستنې، ما وشوای کړای چې ژوند ته بېرته په بریالۍ توګه را وګرځم.

زه له یو کال پرله پسې هڅو وروسته وتوانېدم چې هر سهار یو کیلومتر منډه وکړم، په خپل مخکیني شرکت کې بیا دنده واخلم او خپل نهه زره ډالره قرض هم خلاص کړم. پوهېږی دا هرڅه زما په حق کې یوازې زما ژمنې حقیقي کړل. زه دې هرڅه ته کلک ژمن وم.

## راپورونه: تېره فبروري میاشت په ټول هېواد کې نږدې ۸۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې



په تېره فبروري میاشت کې د وړمې (جنورۍ) په پرتله له ۷ ورځنې «اورکم» سره سره، مرګ ژوبله ۱۳ سلنه او بریدونه شپږ سلنه ډېر شوي او په فبروري کې د هېواد په کچه نږدې ۸۰۰ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دغه راز تر لاسه شوې شمېرې ښیي چې په افغانستان کې د روان میلادي کال په فبرورۍ کې ۱۰۱ بریدونه، خو په وړمه جنورۍ میاشت کې ۹۵ بریدونه شوي دي.

د پژواک خبري اژانس خپاره شوي خبرونه چې د بېلابېلو سرچینو د څرګندونو له مخې جوړ شوي، په ډاګه کوي چې په دغو بریدونو کې په تېره فبروري کې ۵۳۷ کسان وژل شوي او ۲٦۰ نور ټپیان دي، په داسې حال کې چې په وړمه جنورۍ میاشت کې ۴۲۲ کسان وژل شوي او ۲۸٦ نور ټپیان وو.

تر لاسه شوي راپورونه ښیي چې د روان میلادي کال په جنورۍ میاشت کې له یادو بریدونو تر ټولو ډېر (۴۲) بریدونه ناپېژاندو وسله والو، ۳۰ دولتي ځواکونو، ۲۲ طالبانو او ۷ نور بهرنیو ځواکونو کړي دي.

دغه راز د پژواک راپورونه ښیي چې له هرو ۱۷ کسانو شپږو شپږو ته په مخامخ نښتو او هوايي بریدونو کې، دوو دوو ته په هدفي وژنو او چاودنو او یو تن ته په ځانمرګي برید کې مرګ ژوبله اوښتې ده .

تر ټولو ډېر (۱٦) بریدونه په فاریاب، ۱۴، ۱۴ په کندهار او ننګرهار، شپږ شپږ په هرات او کابل او څلور څلور په بلخ، غزني، هلمند، کندوز، لغمان، سرپل او اروزګان او پاتې ۱۷ بریدونه په ۱۱ نورو ولایتونو کې شوي دي.


پژواک په فبرورۍ کې له بدخشان، بامیان، دایکندي، غور، نورستان، پکتیکا، پنجشیر، جوزجان، لوګر، سمنګان، میدان وردګو او پروان ولایتونو څخه د بریدونو راپور نه دی تر لاسه کړی.

د جنورۍ په پرتله په فبرورۍ کې بریدونه او مرګ ژوبله په داسې حال کې ډېر دي چې د فبرورۍ اووه ورځې ( له ۲۲مې تر ۲۸ مې) د ښکېلو غاړو له خوا اعلان شوی اورکم هم پکې شامل و.

د راپورونو له مخې، په دغو اوو ورځو کې د پخوا په پرتله د بریدونو په شمېر کې ۹۵ سلنه او په مرګ ژوبله کې ۸۸ سلنه کموالی راغلی و.

خو د پژواک د وړمې میاشتې راپور ښیي چې د سولې خبرو وړمه میاشت هم د بریدونو پر کموالي اغېز درلود. شمېرې ښیي چې د ۲۰۱۹ ز کال په ډسمبر کې د ۱۲۴ بریدونو له امله ۱۱۰۲ کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې وه.

## چین: بهرني ځواکونه دې په منظم او مسوولانه توګه له افغانستانه ووځي



د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند، ژایو لي جیان ویلي، هېواد یې هیله لري چې له افغانستانه ټول بهرني ځواکونه په منظم او مسوولانه توګه ووځي.

هغه زیاته کړې چې له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو مسوولانه وتل به د دې لامل شي چې په دغه هېواد کې تلپاتې سوله راشي، د امنیتي خلا له رامنځ ته کېدو مخنیوی او د ترهګریزو بنسټونو پیاوړي کولو لپاره فرصت پاتې نه شي.

هغه دغه راز ویلي، هېواد یې هیله من دی چې د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه به په افغانستان کې د سولې لامل شي. دا په داسې حال کې ده چې د شنبې په ورځ د امریکا او طالبانو تر منځ د سولې هوکړه لیک په دوحه کې لاسلیک شو، چې په ورته نیول شویو مراسمو کې د ۳۰ هېوادونو او نړیوالو بنسټونو استازو ګډون کړی و. د هوکړې له مخې، پنځه زره امریکایي ځواکونه به په ۱۳۵ ورځو کې له افغانستانه وځي او پاتې نور به هم د یادې هوکړې له لاسلیک وروسته په ۱۴ میاشتو کې په بشپړه توګه له افغانستانه وځي. د چین د بهرنیو چارو وزارت ویاند له طالبانو او په افغانستان کې له نورو سیاسي ډلو هم غوښتي چې ژر دې بین الافغاني خبرې پیل کړي، څو په ګډه سره پر سیاسي او امنیتي پلان کار وکړي.

هغه زیاته کړې، یادې ډلې باید پر داسې پلان کار وکړي چې د ټولو لپاره د منلو وي او همدا راز په افغانستان کې د سولې لامل شي.

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷٦,٤٠ |
| € | ۸٤,۸۰ |
| Rp. | ٤۹۰ |
| ₹ | ۱۰٦۰ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۹٦,۸۰ |

### پروازونه

| | |
|---|---|
| کابل - هرات | 07:00 |
| کابل - دوبی | 15:30 |
| کابل - ډهلي | 07:00 |
| **Kam Air** | |
| کابل - هرات | 09:00 |
| کابل - کندهار | 09:00 |
| کابل - ډهلي | 10:00 |
| **flydubai** | |
| کابل - دوبی | 08:50 |
| کابل - دوبی | 14:40 |
| کابل - دوبی | 18:15 |

### بېړنۍ شمېرې

پولیس
119 - 100
امبولانس
112
اتاترک روغتون
0202500312
ملالی زېږنتون
0202201377
وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360
رابعه بلخي روغتون
0202100439

مسیر ورځپاڼه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډېټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦ ۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦
maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

Maseer
New Vision, New Journey
Daily

وایگل چاپ
WAYGAL PRINTING CO
WAYGAL Printing Co.
غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ !
+93 (0) 202 51 2626
+93 (0) 782 98 96 96
waygalprinting.co@gmail.com
waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul

چهارشنبه د ۱۳۹۸ د کب ۱٤مه | د ۲۰۲۰ د مارچ څلورمه | ۵۲۵مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily

| کابل | هرات | کندهار | بلخ | ننګرهار | خوست |
|---|---|---|---|---|---|
| ۹ | ۱۳ | ۲۱ | ۱۱ | ۱۸ | ۱۳ |
| ٤ | ۱ | ٦ | ٤ | ۱۱ | ۷ |

شرعي وختونه: سهار ۰٤:۵٦ | لمر ختل ۰٦:۱۹ | ماسپښین ۱۲:۰٦ | مازیګر ۰۳:۲۳ | ماښام ۰۵:۵۲ | ماخوستن ۰۷:۱٦

## نړۍ




## محب: اگر آتش بس دایمی نشود، هیچ یک از زندانیان طالبان رها نخواهند شد



مشاور امنیت ملی می گوید که اگر آتش بس دایمی نشود، هیچ یک از زندانیان طالبان رها نخواهند شد؛ اما گروه طالبان به رهایی پیش از آغاز مذاکرات بین الافغانی، تاکید می کند.


حمدالله محب مشاور امنیت ملی کشور، در مصاحبه با یکی از رسانه های خارجی گفته است که حکومت افغانستان، مطمئن نیست که گروه طالبان به صلح واقعی باور داشته باشد.

وی افزوده است: «ما مطمئن نیستیم که طالبان به صلح واقعی باورمند باشند، به همین دلیل، ما از آن ها خواستار آتش بس دایمی استیم تا نشان بدهند که واقعاً صلح می خواهند. ما آمادگی کامل برای دفاع از مردم افغانستان داریم. همزمان با آغاز گفتگوهای بین الافغانی، آن ها باید روند کاهش خشونت ها را ادامه بدهند.»

موصوف، با اشاره به این که ایالات متحده امریکا، تنها نقش تسهیل کننده را در پروسه صلح افغانستان ایفا می کند و صلاحیت آزادی زندانیان طالب را ندارد، می گوید، تا زمانی که طالبان آتش بس نکنند و تعهد واقعی شان را برای صلح نشان ندهند، هیچ کدام از زندانیان طالب آزاد نخواهد شد.

اما سهیل شاهین، سخنگوی دفتر سیاسی طالبان در قطر، پس از ظهر دیروز در صفحه تویترش نوشته است که تنها مسئولین کمیسیون امور زندانیان این گروه، با مسئولین محابس به گفته آنان(اداره کابل) در مورد رهایی زندانیان می بینند تا شش هزار زندانی (پنج هزار طالب و یک هزار نیروی دولتی) پیش از مذاکرات آزاد شوند.

## بوریسوف: اروپا ته د کډوالو د تګ په تړاو د ترکیې له اوسني دریځه ملاتړ کوو



د بلغاریا لومړي وزیر بویکو بوریسوف د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان د هغو خبرو ملاتړ کړی، چې د اروپایي ټولنې او ترکیې تر منځ په ۲۰۱٦ ز کال کې د کډوالو پر سر د شوي جوړجاړي د له منځه تللو پړه پر اروپایي ټولنې اچولې ده.

دواړو مشرانو په انقره کې د یوې غونډې پر مهال د کډوالو پر هغې خپې بحث کړی چې په دې وروستیو کې له ترکیې د اروپایي ټولنې پر خوا ور روانې دي.

اردوغان د زرګونو کډوالو پر مخ د دروازو له پرانیستو یوځل بیا دفاع وکړه او پر اروپایي ټولنې یې سختې نیوکې وکړې چې د شاوخوا درې میلیونه سوري کډوالو د ځای کولو لپاره یې ترکیې ته ٦ میلیارده یورو مرسته نه ده ورکړې.

اردوغان ویلي: «موږ تر ۴۰ میلیارده یورو زیات لګولي، خو بروکسل ٦ میلیارده یورو چې ژمنه یې کړې وه، نه دي راکړي.»

په ورته وخت کې د بلغاریا لومړي وزیر بوریسوف په دې خبري غونډه کې ویلي، اروپایي ټولنې ترکیې ته د دې پیسو د ورکړې په اړه رایې ورکړې، خو اوس د دغو پیسو ځنډول د ژمنې د ماتولو په مانا دي. دغه راز اروپایي کمېسیون ټینګار کوي چې دوی دا پیسې ټولې د کډوالو مرستندویه سازمانونو ته ورکړې، نه په مستقیمه توګه د ترکیې دولت ته.

## د سره صلیب کمېټه: د یمن ٦۵ سلنه اوسېدونکي له سختې لوږې او قحطۍ سره مخ دي

د سره صلیب نړیوالې کمېټې ویلي، د یمن ٦۵ سلنه اوسېدونکي له سختې لوږې او قحطۍ سره مخ دي.

یادې کمېټې د یوې خبرپاڼې په خپرولو سره ویلي، چې د دغه هېواد ټولټال ۸۰ سلنه وګړي اوسمهال جدي مرستو ته اړتیا لري.


سرچینې دغه راز ویلي چې د یمن نږدې ۳۰ میلیونه وګړي چې د دغه هېواد ٦۵ سلنه برخه جوړوي، له لوږې سره مخ دي او نړیواله ټولنه باید ژر تر ژره په دې اړه جدي اقدامات وکړي.

په خبرپاڼه کې راغلي چې ٦۴ سلنه یمني وګړي روغتیایي مرستو او ۵۸ سلنه نور یې بیا پاکو اوبو ته لاسرسی نه لري.

د یادې کمېټې په خبره، د یمن ۱۰ سلنه اوسېدونکو د جګړو او ناامنیو له کبله خپل هېواد پرې اېښی چې اوسمهال یې ډېری برخه په ګاونډیو هېوادونو کې په ناوړه وضعیت کې ژوند کوي. دغې کمېټې پر ملګرو ملتونو، اروپایي ټولنې او نړیوالو مرستندویو بنسټونو غږ کړی چې دغه هېواد ته دې جدي بشري مرستې ورسوي. سره صلیب دغه راز د جګړې له ښکېلو غاړو هم غوښتې چې په جګړه ځپلو سیمو کې دې ژر تر ژره اوربند وکړي، څو دوی خپلې مرستې په اسانۍ سره دغو سیمو ته ورسوي.

## ژوند

## پر شکرې ناروغۍ اخته کسان مېوه وخوري؟



له خلکو سره داسې یو تصور دی چې پر شکرې ناروغۍ اخته کسان باید مېوې ونه خوري، ځکه داسې ویل کیږي چې د مېوو شکر یا ګلوکوز په بدن کې د تصفیه شوي شکر په څېر عمل کوي، نو ځکه باید ونه خوړل شي. خو د تغذیې د برخې متخصصین داسې اشخاصو ته د میوو خوړل ګټور بولي. دا سمه ده چې ټول هغه کاربوهایډریټ چې د خوراکي موادو له لارې تر لاسه کېږي، بالاخره د وینې په ګلوکوز بدلېږي چې په دې کې د مېوو کاربوهایډریټ هم شامل دي. څېړنې وایي چې مېوې د وینې پر شکر ډېر لږ اغېز کوي؛ ځکه میوې هم د سبزیو په څېر په عمده ډول د ویټامینونو، معدني موادو او انټي اکسیدان پرته له اوبو او فایبر جوړې شوې دي او فایبر په وینه کې د شکر د ډېرېدو پروسه ورو کوي. بل مهم ټکی د میوو په استعمال کې دی. هغه مېوې چې په یوه واحد کې یې د کلسیمو کچه له ۵۵ ښکته وي، پر شکرې ناروغۍ د اخته کسانو لپاره مضرې نه دي.

## له عمل پرته افکار بې ارزښته دي




د کتاب د یوې برخې لپاره څومره د بحث وړ عنوان دی! ښایي همداسې وي " خو زه فکر کوم چې دا رښتیا دي. ما له خپلو زیاترو استادانو اورېدلي چې وایي، نظریې بریا له ځان سره لري او افکار د شرکتونو محرکه قوې دي. موږ به هغه څه وو چې ټوله ورځ د هغو په اړه فکر کوو، خو زما لپاره بې عمله فکر کول له یوې خالي او بې حاصله ځمکې پرته بل څه نه دي. یا په بل عبارت، یوه نظریه که هرڅومره لویه هم وي، یوازې هغه وخت ارزښت لري چې په عمل کې ثابته شي.

زموږ نړۍ له ځینو متفکرو خلکو ډکه ده چې هېڅکله هم د هغو د فکر لویي او عظمت نه عملي کېږي. د فکر په برخه کې ډېر لوی خلک دي، خو د عمل په برخه کې بیا ډېر کمزوري دي او په هغه محدودیت کې په ډېرو رنځونو اخته کېږي. یوهان فون ګوټه نامتو آلماني شاعر ویلي: «هر هغه څه چې ته یې تر سره کولای شې، یا د تر سره کولو ارمان یې لرې، نو پیل یې کړه. مېړانه؛ نبوغ، ځواک او جادو له ځان سره لري.» هغه خلک چې نړیوال سټنډرډونه لري، هغو بیا دواړه موارده تر لاسه کړي وي. هغوی هم ډېر غوره تخنیکونه او هم ډېرې غوره ستراتېژۍ لري.

ماستر ډبټ کارت

د عزیزي بانک ماستر ډبټ کارت له پراخو خدماتو سره، ستاسو د مالي اړتیاوو او شرایطو سره سم ډیزاین شوی چې ستاسو له بانکي حساب سره تړاو لري او په هرځای کې خپلو پیسو ته لاسرسی لرلی شئ.

- په ټوله نړۍ کې له 25 میلیون ډېرو سوداګریزو مرکزونو/پلورنځیونو کې د منل کېدو وړتیا لري.
- د دې لپاره چې ژر پیسې ترلاسه کړئ په افغانستان او بهر کې د صرافۍ له ټولو اتومات ماشینونو ګټه اخیستلی شئ.



1515 www.azizibank.af

عزیزي بانک
Azizi Bank